ليکوال: انجنير سيد عبدالقادر تاريخ ۱۸/۰۸/۲۰۰۸

داسد داته ويشتمی دافتخاراوغرور څخه ډک استقلال څه سوو؛

دکونډو مينډوچيغي نوري اوريدلاي نه سی افغان بچيانو خوب حرام په شنه سهار ورځغلي

داهغه اساسی سوال دی چه نن هر افغان او په مجموع کي ټول سياسی ګوندونه , تنظيمونه او ټول اجتماعي سازمانونه او ټولني ورسره مخامخ دي .
ولي دادافتخاره څخه ډکه ورځ يو تعداد افغان کلتوري ټولني او دولتي واکمنان په داسي حال کي لمانځي ، چه افغان لاس تړلي ملت دنړي ديويشتمي پيړي دامپرياليستي ټولني په اوسپنيزو زنځيرانو کي داسي بند دی، چه تنها کولايسي دخپلو زورونو اوشکنجو تماشا وکړي اوبس .
ولي دا مغروره اوسرکښه ملت يي نن داسی ډپان اوپرانګ په منځ کي راګير کړي دي ، چه حتا سره انګريز دنورو اقتصادي اونظامي هدفونوتر څنګ دافغان سره د نونسمي پيړي ددرو جنګونودتاريخي ماتوقسد هم اخلي .
ولي په اوسني مهال کي افغان لاس پوځي چارواکي او لوي جنګ سالاران داورځ په داخل اوبهرنيو هيوادونوکښي د افغان سفارتونوله لاري ځکه په شاندارو غونډو واو په سپين سترګيو باندي لمانځي. چه دوي غواړي دداسی شوموتبليغاتو له لاري دافغان لاس تړلي ملت څخه اوسني دامريکا او انګليس تررهبري لاندي داوه ديرش مملکتونود بشري اواقتصادي جناياتو څخه ډک بښکاره اشغال پټ کړي. اودخپلو شومو تبليغاتو له لاري دازور واکان، تيکنوکراتان ، او جنګ سالاران غواړي چه دافغان جنګ ځپلي او لاس تړلي ملت ته داسي وښيي چه افغانستان نن ورځ آزاد ،مستقل او خپلواک دي .
داځکه چه دوي خپل ژوند ،حاکميت ،دملي شتمنيو چورول اوبلاخره دځانونوڅخه ددي اشغال په دوره کي مصنوعي سرمايه لرونکي جوړول، چه داټول دوي په همدي اشغال کي ويني او بس .

ولي پر ملت او وطن مين هر ريښتيني افغان په اوس مهال کي په دي باندي ښه پوهيږي چه پر افغانستان باندي له پردو له خوا تجاوز سوي، استقلال او خپلواکي يي له لاسه وتلي، اود پردوترحاکميت لاندي خپلي شپي اوورځي سبا کوي . داځکه چه :
ـ ديوه مملکت دملي اردو دتشکيل او تجهيز امرچه ديوه پرغلګر ځواک دحاکميت په قومانده کي وي .
ـ ديوه مملکت دحکومت د ټولو لومړي درجه چارواکومقرريدل اوتبديلېدل چه ديرغلګرو ځواکونودحاکميتونوپه لاس کي وي .
ـ اوهم ديوه مملکت ټول سياسي اواقتصادي استقلال چه ديرغلګرو دحاکميتونوپه لاس کي وی .
ـ اوبالاخره ديوه مملکت دجمهوري رياست له پاره په بهرکي ديرغلګرودحاکميتونوله خوا څخه په پخواني اوراتلونکو مصنوعي انتخاباتو کي ديوه نيږدي شخص نومول اوپه بښکاره درغليو اوغير مشروع ډول سره هغه دحاکميت پر چوکي کښينول .چه داټول هغه څه دي چه ديوه مملکت داستقلال دنشتوالي په وخت کښي ترسره کيږي .
او يا په داسي حال کي چه دا جنګ ځپلي ملت دمملکت په مختليفو سيموکي ديرغلګروځواکونوتروحشيانه بمباردونولاندي هره شپه او ورځ په لسګونواو سلګونو ،ماشومان ، ښځي ،زاړه اوځوانان په شهادت رسيږي . کورونه ، محلات اواقتصادي زيربناوي له منځه ځي . ولي په عکس العمل کي دافغان لاس پوځي حاکميت واکمنان پر يرغلګرو باندي هر وخت تنهاداحتياط کولو ږغ کوي اوبس .

په داسي حال کي چه دبينوا افغاني سايټ ديوي ليکني په حواله(تنها دجون اوجولاي په مياشت کي ۶۴۶ او۵۱۵ بمبونه غورځول سوي ، چه ددي هوايي ځواک د (اي سي ــ ۳۰)توپ لرونکو الوتکو اوياد طياروڅخه کوچني راکيټونه هم نه دي پکښي حساب. او هم د (اي ۱۰) او (ايف ۱۵) او دليري کنترول ليدونکو الوتکو سره سره فرانسوي اوبرتانوي ځواکونوله خوا هم حملي سوي دي .)

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

چه په نتيجه کي به ځونه بي ګناه انسانان په شهادت رسيدلي ، زخميان سوي اوکورونه يي خراب سوي وي . ولي ددي جنګ ځپلي ملت دپوښتنې ځوک نه په اوسني بي انصافه جهاني ټولنه کي اونه په افغاني لاس پوڅي حاکميت کښي تراوسه نه دي ليدل سوي . چه داجنګي اواقتصادي جنايتکاران دي دعدل اوانصاف وميز ته راکش کړي .
دپورتنيوعينيتونواوواقعيتونوپه نظر کي نيولو سره نو ځنګه کولايسو چه ووايوچه افغانستان آزاد مستقل اوخپلواک هيواد دي .
اوس نو سوال داپيداکيږي چه دي اشغال اوپه مملکت کښي بشري اواقتصادي جناياتوته ځنګه بايد دپاي ټکي کښيښولسي . چه داهغه اساسي سوال دي ، چه دافغان ملي ګټو په نظرکي نيولوسره بايد دروشنفکرانو په يوه پراخ تفاهم کي(که داتفاهم دملاقاتونو،لويو سياسي غونډو اويا جمعي رسانو له لاري هم وي) جواب ورته پيداکړل سي .
ولي ماخپل نظر چه تقريبا دوه کاله مخکي مي هم دافغاني سايټونوله لاري افغانانواوجهاني ټولني ته ديوه وړانديز په حيټ ليکلي وو . هغه داچه په افغانستان کي داوسني لانجي د سيا سي حل له پا ره ځه بايد وسي :
ما هغه ديخواني ليکني وړاند يزمي بياهم تاسومحترمولوستونکوته نقلا وليکي. هيله مند يم چه تاسو هم خپل نظر دخپل ملي احساس له رويه چه يي لري دملي ګټوپه نظر کي نيولو سره ورکړي. چه په نتيجه کي به دسياسي حل يو دقيق ميکانيزم منځ ته راغلي.چه دا به نه تنها خپل ملت بلکي دمنطقي اوجهان ملتونه اوميليتونه به مو دصلح دکاروان سره يو ځاي کړي اومور به خپله ملي اوانساني وظيفه هم اجرا کړي وي .

دپورتنيو عيني واقيعنتونو په نظر کي نيولو سره بايد ووايو چه په افغانستان کي دصلح راتلل اوټينګښت نه تنها به افغان لاس ترلي ملت دنورو بشري اواقتصادي تلفاتو ځخه وساتي بلکه دمنطقي امنيت به هم دګوابنونوځخه ليري اودجهاني صلح دپاره به ستر قدم اخيستل سوي و ي . نوددي دپاره بايد :
ـ دامريکا تررهبري لاندي جهاني ائتلافي ځواک دافغانستان ددولت سره په ګډه اودافغانستان ددولت په مقابل کي وسله وال مقاومت بايد بي له قيداوشرطه اوربند اعلان اودملګرو ملتونوله خواه دي دواړه طرفه دمذاکري وميز ته راوبلل سي.

ـ دواړه طرفه بايد دنړيوال کنفرانس غوښتونکي سي .او دواړه طرفه بايد دسياسي حل پر دقيق ميکانيزم باندي موافقه سره وکړي اوهم بايد په دي ميکانيزم دالاندي ځو مهي کربني دنورو وځنګ ته په نظر کي ونيول سي . ولي داکنفرانس بايددهيڅ يوه خارجي قدرت دنظامي اقتصادي اغيزي لاندي نه وي . دکنفرانس ګډون کوونکي بايد دافغانستان داوسني حاکميت اوددوي په مقابل کي وسله وال مقاومت سربيره بايد يو تعداد آزاد پر وطن مين کارپوهان دملي دموکراټيکو احزابو نماينده ګان اويو تعداد په ولس کي محبوب شخصيتونه وي.
ـ دخارجي قواوودوتلو زماني جدول دي داسي جوړ سي ، چه هيڅ نوع بي امنيو ته مخه خلاصه نه کړي.
ـ که دخارجي قواوو دوتلو پر سر اوزماني جدول باندي خبرو ځان ته مشکله بنه اختيار کړل ، نوپه هغه صورت کي دي ددغه معين وخت دپاره دملګرو ملتونو دصلح ځواک راوغوښتل سي ، يادي داسلامي نړي دهيوادونوځخه تظامي پوځونه راوغوښتل سي . ولي په همدغه ټاکلي وقفه کي بايد په مملکت کښي ټولي غير قانوني سلاح دهر ګروپ ځخه چه وي راټولي اودملي دفاع وزارت ته تسليم کړل سي.

ـ داکنفرانس بايددافغانستان دملي منافعو په نظرکي نيولو سره نوي موقته اداره جوړه اوترراتلونکي لوبي جرګي ترجوړيدو پوري دولتي چاري مخ ته بوزي.
ـ داکنفرانس بايد پر جهاني ټولني باندي زور واچوي چه دراتلونکو پينځو کلونودپاره بي له قيده اوشرطه خپلو اقتصادي کومکونوته ادامه ورکړي . ولي دهرکال په اخر کښي بايد دپيسو دمصرف دقيق راپور واخيستل سي اودنوي کال اقتصادي کومک پيسي ددولت په اختيار کي کښيښول سي.

ـ ملګري ملتونه بايد دامنيت شورا ته وظيفه ورکړي چه په راتلونکو وختونوکي دافغانستان په داخلي چارو کي کوم خارجي هيواد مداخله ونه کړي.

تمت بالخير

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de